DTM AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

باميان
د پايلي لنډيز
اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸


په باميان ولايت کې د څښاک پاکو اوبو ته د لاسري محدوديت له امله ډېری داخلي بېځايه شوي کورنی له سطحي اوبو څخه ګټه اخلي، لکه دا مېرمنې چې د يکاولنګ ولسوالۍ په سرخي کلي کې له يو سيند څخه اوبه اخلي. © IOM ۲۰۱۸

## د بېځايه کېدوونکو د تعقيب سيستم (DTM)

د بېځايه کېدوونکو د تعقيب سيستم داسې يو سيستم دی چې د خلکو د بېځايه کېدنې او تحرک له بهير څخه تعقيب او څارنه کوي. دا سيستم په سيستماتيک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سيمه او يا لاره کې د بېځايه شويو خلکو هغه اړتياوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره .www.displacement iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

په افغانستان کې، DTM د تحرک د ارزونې بنسټيزه وسيله کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه، د جبري بېځايه شويو کسانو د نفوس کچه او موقعيت تشخيص، د بېځايه کېدو علت، اصلی سيمې، د بېځايه کېدو مهال، لومړني ډيموګرافيکي معلومات، زيانمنتياوې او د اړتياوو د لومړيتوبونو څخه څارنه وکړي. معلومات د کليو په کچه د ډله ايزو بحثونو، مخامخ کتنو او کليدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړيوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پياوړتيا ورکوي چې سرچينې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړيتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پايدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بيا يوځای کېدنې، ثبات او پراختيا څخه ډاډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعيتونه

DTM د تحرکاتو بنسټيزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعيتونو کټګوريو موقعيت، نفوس او څو سکتوريزې اړتياوې څاري:

۱. بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ مياشتو لپاره د هيواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنيو هېوادونو ته تللي او يا کډه يې کړې وي

داخلي بېځايه شوي په لاندې دريو کټګوريو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې

د ارزول شويو کليو څخه هغه افغانان چې د داخلي بېځايه شويو په توګه يې خپلې سيمې پرېښې ترڅو د افغانستان دننه په يوې بلې سيمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان

د نورو سيمو څخه داخلي بېځايه شوي کسان چې اوسمهال په يوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شويو کليو څخه پخوا د داخلي بېځايه شويو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعيتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځايه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۷** ولسوالۍ وارزول شوې
**۱۷۸** کلي وارزول شول

**۸۱۴**
کليدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۳۸،۵۴۴**
بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۳۹،۰۴۱**
داخلي بېځايه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۴۸،۹۷۹**
پخواني داخلي بېځايه شوي کسان اوس خپلو سيمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۳۶،۵۵۰**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۴،۳۴۷**
کسان اروپايي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ۱۲٪)

**۹۸۴**
راستنيدونکي او داخلي بېځايه شوي په خېمو او يا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۵ څخه ۲**
د ټولو راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو له ډلې ۴۴٪ کسان په باميان ولسوالۍ کې ژوند کوي

**۵ څخه ۳**
د ټولو رارسېدليو داخلي بېځايه شويو کسانو له ډلې ۵۸٪ کسان په غير رسمي سيمو کې ژوند کوي

**۵ څخه ۱**
په باميان ولسوالۍ کې ۱۸٪ کورنۍ ښوونځيو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۱۳،۹۷۰**
کسان (۴۰٪) په باميان ولسوالۍ کې روغتيايي خدماتو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۶،۹۵۸**
کسان (۸۲٪) په شغنان ولسوالۍ کې بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۲،۰۶۰**
کسان په باميان ولسوالۍ کې د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولسوالیو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالی | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي | د نفوس سلنه | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بامیان | ۹۱,۴۲۸ | ۳۴,۳۵۸ | ٪۲۷ | ۱۴,۱۱۲ | ٪۱۱ | ۲۳,۶۹۱ | ٪۲۶ | ۲۰,۲۴۶ | ٪۱۶ | ۲۰,۰۷۶ | ٪۲۲ | ۱۰,۰۸۱ | ٪۱۱ |
| سیغان | ۲۶,۱۷۶ | ۸,۴۵۵ | ٪۲۴ | ۶,۳۱۸ | ٪۱۸ | ۱۱,۰۶۱ | ٪۴۲ | ۲,۱۳۷ | ٪۶ | ۹,۱۲۹ | ٪۳۵ | ۶,۳۸۷ | ٪۲۴ |
| یکاولنګ | ۹۵,۴۶۷ | ۶,۳۰۵ | ٪۶ | ۵,۲۱۷ | ٪۵ | ۱۱,۰۹۰ | ٪۱۲ | ۱,۰۸۸ | ٪۱ | ۲,۸۷۵ | ٪۳ | ۳,۳۱۱ | ٪۳ |
| پنجاب | ۷۴,۴۲۳ | ۴,۴۷۷ | ٪۶ | ۲,۹۹۷ | ٪۴ | ۱۰,۰۵۰ | ٪۱۴ | ۱,۴۸۰ | ٪۲ | ۱,۷۹۴ | ٪۲ | ۳,۳۵۳ | ٪۵ |
| شیبر | ۳۲,۲۰۷ | ۱,۱۶۹ | ٪۴ | ۹۳۵ | ٪۳ | ۳,۸۱۹ | ٪۱۲ | ۲۳۴ | ٪۱ | ۱,۴۳۰ | ٪۴ | ۱,۶۳۸ | ٪۵ |
| کهمرد | ۳۹,۶۴۸ | ۱۹,۸۶۴ | ٪۳۳ | ۶,۳۸۱ | ٪۱۱ | ۱۹,۱۲۹ | ٪۴۸ | ۱۳,۴۸۳ | ٪۲۳ | ۱۲,۴۲۰ | ٪۳۱ | ۷,۵۵۱ | ٪۱۹ |
| ورس | ۱۱۹,۰۷۵ | ۲,۹۵۷ | ٪۲ | ۲,۵۸۴ | ٪۲ | ۶,۳۹۹ | ٪۵ | ۳۷۳ | ٪۰ | ۱,۲۵۵ | ٪۱ | ۴,۲۲۹ | ٪۴ |
| مجموعه | ۴۷۸,۴۲۴ | ۷۷,۵۸۵ | ٪۱۴ | ۳۸,۵۴۴ | ٪۷ | ۸۵,۲۳۹ | ٪۱۸ | ۳۹,۰۴۱ | ٪۷ | ۴۸,۹۷۹ | ٪۱۰ | ۳۶,۵۵۰ | ٪۸ |

* د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي اداره (*NSIA*) اټکل    سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≥ ۲۰۰,۰۰۰    د نفوس سلنه ≥ ۲۵٪



فارمونو ته د اوبو لګولو لپاره د اوبو کموالی او د وچکالۍ د مدیریت سرچینو کموالي له امله په بامیان ولایت کې بزګر مجبور دي چې شنه بوټي له پاخېدو او د رېبلو موسم څخه مخکې ورېبي – لکه دا هلکان چې په ورس ولسوالۍ کې دا شنه بوټي د پاخېدو څخه مخکې رېبي. © IOM ۲۰۱۸

## تګلاره

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځایه کېدنې تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځایه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځایه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځایه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړي د سیمه ایزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیتي معلومات راټولوي. سیمه ایز کارکوونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټیلیفونونه یا ټابلیټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجوده معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجسټر کوونکي له لوري تر کتنې او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړني ځل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه دوه برخې لري راټولوي:

١. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B1): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زیات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې وړ جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

٢. د کلیو په کچه ارزونه (B2): دا ارزونه د B1 ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلو او وتلو افغان وګړو په اړه د موخې وړ جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B1 په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلوماتو ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.


## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکوونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د څو سکټورېزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو هغوي غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.


DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کارکوونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جندر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. که څه هم په بامیان ولایت کې د کلیدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه یوازې ۴٪ یې ښځې دي خو دا شمېر د ۲۰۱۷ کال مارچ میاشتې د هېواد د کچې ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکو شمېر (۰.۱٪) په پرتله پرمختګ ښیي.

| | |
|---|---|
| **۸۱۴**<br>کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه | **۱۲۹**<br>کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنیدونکي دي او یا هم داخلي بېځایه شوي (۱۶٪) |
| **۳۳**<br>ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۴٪) | **۱۸۲**<br>له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۲٪) |
| **۷۸۱**<br>نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۹۶٪) | **۱۲۹**<br>څو سکټوریزو او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۱۶٪) |
| **۴,۶**<br>په هر ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر | **۳۱۱**<br>له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۸٪) |

د ډول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | بامیان




د ډول او جنسیت پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | بامیان



# بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنيو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو مياشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شويو سيمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هیوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بيا UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو ته يي د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او يا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنيو هېوادونو څخه باميان ولايت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ۷۴٪ کموالی شيي او په ۲۰۱۷ کال کې ۴۰٪ کموالی شيي. سربېره پر دې په ۲۰۱۸ کال کې ۱۹٪ کموالی شيي. له ۲۰۱۲-۲۰۱۸ پورې ۳۷٪ راستنېدونکي له بهرنيو هېوادونو څخه باميان ولسوالۍ ته راغلي دي.

**۳۸،۵۴۴**
بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي


**۲,۹۳۲**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۸٪)


**۳۲,۶۰۲**
له ايران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۸۶٪)


**۳۴,۹۳۵**
ايران څخه راستنېدونکي (۹۰٪)


**۵,۲۶۵**
له ايران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۱۴٪)


**۶۷۷**
غير ګاونډيو هېوادونو څخه راستنېدونکي (۲٪)




# رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ یا وسله والو جګړو، تاوتریخوالی، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښنې او د طبیعي پیښو یا د انسان په لاس جوړې شویو پېښو څخه د خوندیتوب په موخه خپلو سیمو څخه بېځايه شوي دي او ارزول شوي/ کوربه ټولنو ته تللي او هلته ژوند کوي.

**۳۹،۰۴۱**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان

**۲۷٪**
د کړکېچ له امله بېځايه شوي


**۲۰،۲۴۶**
باميان ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان – د ولایت په کچه تر ټولو لوړ شمېر

**۷۳٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځايه شوي


**۲۲,۷۶۷**
داخلي بېځايه شوي په غیر رسمي سیمو کې مېشت دي (۵۸٪)

**۶۶٪**
په خپل اصلي ولایت کې بېځايه شوي


رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | کلنی بهیر | باميان





د اصلي ولایت پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | باميان





د ولسوالۍ پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | باميان





د ولسوالۍ پر بنسټ غیر رسمي سیمو کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان | باميان




رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | پناه ځای | باميان



# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي)





## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځايه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډيز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځايه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| باميان | ۱۴,۱۱۲ | ۲۰,۲۴۶ | ۳۴,۳۵۸ |
| کهمرد | ۶,۳۸۱ | ۱۳,۴۸۳ | ۱۹,۸۶۴ |
| سيغان | ۶,۳۱۸ | ۲,۱۳۷ | ۸,۴۵۵ |
| يکاولنګ | ۵,۲۱۷ | ۱,۰۸۸ | ۶,۳۰۵ |
| پنجاب | ۲,۹۹۷ | ۱,۴۸۰ | ۴,۴۷۷ |
| ورس | ۲,۵۸۴ | ۳۷۳ | ۲,۹۵۷ |
| شيبر | ۹۳۵ | ۲۳۴ | ۱,۱۶۹ |
| عمومي مجموعه | ۳۸,۵۴۴ | ۳۹,۰۴۱ | ۷۷,۵۸۵ |


په عمومي توګه باميان ولايت له ټولټال ۷۷،۵۸۵ راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو څخه کوربه توب کوي چې ۵۰٪ (۳۸،۵۴۴ کسان) راستنېدونکي او ۵۰٪ (۳۹,۰۴۱ کسان) داخلي بېځايه شوي دي. په لاندې جدول کې د باميان ولايت ۲۰ کلي ښودل شوي چې ترټولو زياتو بېځايه شويو او راستنېدونکو راتګ څخه اغيزمن شوي. دا ۲۰ کلي (د باميان ولايت ۱۷۸ ارزول شويو کليو څخه ۱۱٪) د ټول ولايت ۶۰٪ راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو څخه کوربه توب کوي. دا کلي د ټولنو بې ثباتۍ پر وړاندې چې د راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو لوړ شمېر راتګ سره رامنځ ته شوې حساس او زيانمن دي او دا کار له پخوا نه محدودې شوې سرچينې او کاري فرصتونو لا نور هم محدود کوي. له دې ۲۰ زيانمنو کليو څخه ۱۲ کلي يې په باميان ولسوالۍ کې موقعيت لري او د دې جدول ۵۴٪ (۲۵,۳۵۵) راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو څخه کوربه توب کوي.

## ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زيات راستنېدونکي او داخلی بېځايه شوي لري

| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | دره اژدهار | باميان | ۵,۳۹۰ |
| ۲ | غارو | سيغان | ۴,۸۴۵ |
| ۳ | دو آب يخ زرين | کهمرد | ۴,۶۶۹ |
| ۴ | دشت سفيد | کهمرد | ۳,۷۰۵ |
| ۵ | جګره خيل | باميان | ۳,۶۰۸ |
| ۶ | پيتاب لغمان | باميان | ۳,۲۸۳ |
| ۷ | آش پشته | کهمرد | ۲,۶۴۶ |
| ۸ | زرګران ها | باميان | ۲,۴۶۰ |
| ۹ | اندو (اندب) (۱) | کهمرد | ۲,۳۰۷ |
| ۱۰ | سرخ قلعه ها | باميان | ۱,۹۹۸ |
| ۱۱ | دشت عيسی خان | باميان | ۱,۷۱۶ |
| ۱۲ | شين تپه | باميان | ۱,۵۳۳ |
| ۱۳ | ملا غلام | باميان | ۱,۲۵۴ |
| ۱۴ | دشت شاعري | باميان | ۱,۱۹۰ |
| ۱۵ | دورو حليه | کهمرد | ۱,۰۹۳ |
| ۱۶ | دو شاخ | کهمرد | ۱,۰۷۴ |
| ۱۷ | ايشانها | سيغان | ۱,۰۳۲ |
| ۱۸ | ناوه | باميان | ۱,۰۳۰ |
| ۱۹ | هنبر سومچ | باميان | ۹۷۰ |
| ۲۰ | ريګ شادها | باميان | ۹۲۳ |
| | | مجموعه | ۴۶,۷۲۶ |



د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)



د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې


دا هغه افغانان دي چې لـه یـوې ارزول شـوې سـیمې څخه چې هلته یـې پخوا ژونـد کاوه د افغانسـتان دننـه یـوې بلـې سـیمې ته تللي دي تر څو د وسلـه والـو جګـړو، تاوتریخوالي، د بـشري حقونـو سرغړونـې، د خونديتوب انديښـنې او طبيعي پېښـو يا د انسان پـه لاس جوړو شـويو پېښـو څخه خونديې ووسي.


**۸۵,۲۳۹**
داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې


**۱۷٪**
په عین ولایت کې نورو سیمو ته تللي دي

**۵٪**
د کړکیچ له امله بېځایه شوي

**۹۵٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي



د هغو داخلي بېځایه شویو اصلي ولسوالۍ ګانې چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

# راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان

راستانه شـوي داخلي بېځايـه شـوي هغـه افغانـان دي چـې خپلو سـيمو تـه چې ارزول شـوې سـيمې دي او پخوا يې پرېښـې وې بېرته سـتانه شـوي دي. دوی پخوا له دې سـيمو څخه تللي ول ترڅـو د وسـلـه والـو جګړو، تاوتريخـوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب انديښـنې او طبيعي پېښـو يـا د انسـان په لاس جوړ شـويو پېښـو لـه اغېزو څخه خونـدي ووسي.


**۴۸،۹۷۹**
راستانه شوي داخلي بېځايه شوي

**۲۷٪**
وګړي د ولايت دننه نورو سيمو څخه راستانه شوي


**۵ څخه ۴**
پخواني داخلي بېځايه شوي کسان يوازې ۳ ولسواليو ته راستانه شوي: باميان، کهمرد او سيغان (۸۵٪)


**۵ څخه ۲**
د ټولو راستانه شويو داخلي بېځايه شويو له ډلې ۴۱٪ کسان باميان ولسوالۍ ته راستانه شوي

د ولسوالۍ پر بنسټ راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | باميان




راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | کلنۍ بهير | باميان




د راستانه شويو داخلي بېځايه شويو د راستنېدو ولسوالۍ ګانې

# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه د هر دلیل، عامل او یا موده لپاره له هېواد څخه بهر تللي او یا کډوال شوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښتونکي، بېځایه شوي کډوال او هغه کسان شاملېږي چې افغانستان یې د اقتصادي ستونزو له امله پرېښې وي.


**۳۶،۵۵۰**
د هېواد څخه بهر تللي دي

**۴،۳۴۷**
اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۱۲٪)


**۳۰،۸۶۲**
ایران ته تللي دي (۸۴٪)

**۱،۱۷۴**
پاکستان ته تللي دي (۳٪)


د ولسوالۍ پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | بامیان





د هېواد پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان/د موخې سیمه | بامیان





بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | بامیان





ترکیه او اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | بامیان




ایران ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | بامیان




پاکستان ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | بامیان



# سکټوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یاددښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنبدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | باميان | ۳۴,۳۵۸ |
| ۲ | کهمرد | ۱۹,۸۶۴ |
| ۳ | سیغان | ۸,۴۵۵ |
| ۴ | یکاولنګ | ۶,۳۰۵ |
| ۵ | پنجاب | ۴,۴۷۷ |
| | عمومي مجموعه | ۷۳,۴۵۹ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | سیغان | ۷۸۷ |
| ۲ | کهمرد | ۱۹۶ |
| ۳ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | عمومي مجموعه | ۹۸۴ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | باميان | ۲,۰۶۰ |
| ۲ | پنجاب | ۱,۰۳۳ |
| ۳ | یکاولنګ | ۸۵۸ |
| ۴ | شیبر | ۶۷۳ |
| ۵ | ورس | ۲۳۲ |
| | عمومي مجموعه | ۴,۸۵۶ |

### پنځه‌لومړنۍ‌ولسوالۍ‌چې‌روغتیايي‌ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | باميان | ۱۳,۹۷۰ |
| ۲ | کهمرد | ۳,۴۳۰ |
| ۳ | پنجاب | ۳,۰۵۴ |
| ۴ | یکاولنګ | ۲,۴۵۵ |
| ۵ | ورس | ۲,۰۷۳ |
| | عمومي مجموعه | ۲۴,۹۸۲ |


### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځۍ ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځۍ >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | باميان | ۶,۲۷۰ |
| ۲ | یکاولنګ | ۱,۵۶۲ |
| ۳ | پنجاب | ۸۲۶ |
| ۴ | شیبر | ۶۸۸ |
| ۵ | سیغان | ۶۰۹ |
| | عمومي مجموعه | ۹,۹۵۵ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | سیغان | ۶,۹۵۸ |
| ۲ | باميان | ۵,۹۲۴ |
| ۳ | کهمرد | ۳,۷۸۸ |
| ۴ | یکاولنګ | ۲,۶۹۳ |
| ۵ | پنجاب | ۱,۸۹۰ |
| | عمومي مجموعه | ۲۱,۲۵۳ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | باميان




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### کور ته بیا ځلې راستنېدنه

۱۵ کاله مخکې ښاغلی حسیني د خپل د کورنۍ ۸ غړو سره چې دوه یې زامن او پنځه لورګانې وې ایران ته کډوال شو. هغه په ایران کې د قالینو مینځلو په یوې کمپنۍ کې کار کاوه. هغه هڅه وکړه چې د ایران تابعیت ترلاسه کړي خو په ۲۰۱۶ کال کې د ایراني پولیسانو لخوا ونیول شو او بېرته افغانستان ته ډیپورټ شو.

ښاغلی حسیني د کورنۍ پرته بېرته افغانستان ته ډیپورټ شو. هغه یوازې د ځان کالیو سره افغانستان ته راستون شو. که څه هم هغه وکولای شو د خپل د کورنۍ او ملګرو په مرسته یو پاسپورټ واخلي او د ایران ویزه پکې ولږوي.

هغه بېرته ایران ته ولاړ خو پرېکړه یې وکړه چې د کورنۍ نورو غړو سره بېرته افغانستان ته راستون شي. دوی د ۳۴،۹۳۵ کسانو له ډلې څخه ول چې له ایران څخه راستانه شوي دي. هغه بېرته یکاولنګ ولسوالۍ ته ولاړ چې دا د هغه د زیږېدنې ځای هم وه او د هغه د کورنۍ نور غړي هم هلته اوسېدل. هغه د ټولنې ځینو مشرانو سره او د ټولنې انکشافي شورا سره خبرې وکړې ترڅو د وترنري کلینیک جوړولو لپاره د هغوی مشوره واخلي.

هغوی د ښاغلي حسیني وړاندیز ومنه او ښاغلي حسیني وروسته له دې چې د یوې غیر دولتي موسسې په مرسته د وترنري زدکړه ترسره کړه او د وترنري کلینیک د جوړولو لپاره یې د اړتیا وړ تجهیزات ترلاسه کړل هغه وکولای شو چې وروسته له ۲ کلونو کې د وترنري کلینینک جوړ کړي. اوسمهال هغه د میاشتې ۲۰،۰۰۰ افغانۍ عاید لري چې کورنۍ څخه د ملاتړ لپاره یې بسنه کوي.

”زه خوښ یم چې له ایران څخه بېرته راغلم. اوس زه له تشویش او خفګان پرته په آزادۍ کې له خپلې کورنۍ سره په خپل هېواد کې ژوند کوم. “

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوۍ خوندي ووسي.



ایران څخه د راستنېدو وروسته ښاغلی حسیني وکولای شو د یوې غیر دولتي موسسې په مرسته د وترنري کلینیک جوړ کړي. له خپلو طبي خدمتونو سره هغه نه یوازې خپلې کورنۍ څخه ملاتړ کوي بلکه په یکاولنګ ولسوالۍ کې خلکو ته ارزښتناک خدمتونه وړاندې کوي. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړيوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړيوال ملاتړ ټيم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسايل او توکي چې د کار په ترخ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکيت، سيمه او يا هم د هغه د چارواکو او يا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړيوال سازمان له هېڅ نظر يا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړيوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زياتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنيټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**موږ سره په اړيکه کې شئ**

د لا زياتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټيم سره په اړيکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي

Canada · MOFAT · Norwegian Ministry of Foreign Affairs · Italian Agency for Development Cooperation · Co-funded by the European Union · په همغږي سره